ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۰۸/۲۸

# د سټېج، ډرامې او فلم، آرین خان څومره پېژنې؟




آرین خان　　　　ولي الله ملکزی

د ننګرهار ولایت چې د خپلې جغرافیایي ښکلا او طبیعت له مخې په همېشه بهار سره له پرېمانه شهرت څخه برخمن دی، د مرکز (جلال آباد) ترڅنګ ۲۲ ولسوالۍ لري. یوه یې کامه ده چې د کونړ د باغي او ځپانده سیند په ختیزې ډډې کې غځېدلې پرته ده. دغه ولسوالۍ د شمله ور سیاستوال او شهید صدراعظم، موسی شفیق او د ژبورو ادیبانو او پوهانو هریو قیام الدین خادم، محمد ګلاب ننګرهاري، عبدالوکیل صداقت، امان الله سېلاب، غوث خېبري او محمد حسن ولسمل ټاټوبی دی.

همدا شان کامې پخپلې غېږې کې د ځوان کول سترګه ور شاعران او څېړونکي، محمد آصف صمیم، اجمل ښکلی او اجمل اتک یوسفزی هم روزلي دي.

له بله پلوه، کامه د ګڼ شمېر هنرمندانو بڼ ګڼل کېږي چې محمد دین زاخیل او تاند آرین خان یې د میوه دارو ونو په پاسني لیکې کې ولاړ دي. د سټېج، ډرامې، فلم، موسیقي او تکواندو په ډګرونو کې لوبېدلی آرین خان، د ۱۹۸۴م کال د مارچ په اوومې نېټې ننګرهار کې زېږېدلی او د اته کلنی په عمر، د نورو لکونو افغانانو په څېر کوزې پښتونخوا ته کډه شوېدی. نوموړي په ۱۹۹۹م کال کې د ښوونځي په مهال، د افغان مهاجرینو د تکواندو د ملي فدراسیون په سیالیو کې د لومړي مقام په ګټلو سره د سرو زرو مډال ترلاسه کړ. درې کاله وروسته یې د پاکستان د تکواندو د ملي ټیم د اتلولیو په پایلو کې « د سرحد سلطان » او بیا څه وخت وروسته په تیاتر کې د « خان » لقبونه خپل کړل.

له ۲۰۰۲م کال څخه نیولې تر ۲۰۰۵م کال پورې یې په یو شمېر پاکستاني اردو فلمونو کې کار وکړ. ورپسې یې د دغه هېواد د رسمي ټلویزیون (PTV) ډرامو او سریالونو ته لاره ومیندله، د سندرو سټوډیو ګانو ونازولو او د فېشن شو په ډېرې باندې له تېریدو سره جوخت، غوره څېره وګڼل شوه. په ۲۰۰۶م کال کې بېرته خپل هېواد ته راستون شو، د افغان فلم، تیاتر او د شمشاد او آریانا له ټلویزیوني چېنلونو سره یې همکاري پیل کړه. په ۲۰۰۸م کال کې یې (څوک غواړي چې ملیونر شي؟) په نوم یو نوښتګر پروګرام پیل کړ، په لږ وخت کې یې ډېر مزل وکړ او د هېواد په ځوانانو کې یې د سیالۍ او ابتکار یوه رنګینه جذبه پیدا کړه.

له آرین خان څخه مې پوښتنه وکړه چې په رسنیو کې ته د افغانستان د شاه رخ خان په نوم یادېږې، آیا دا نوم تا پخپله خوښ کړی که خلکو دربانډې ایښی دی؟ دا ډول ځواب یې راکړ: «هر څوک باید د خپل شخصیت، هویت او کرکټر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

له مخې و پېژندل شي، نه له بل چا سره د قوارې د شباهت په خاطر. زه خپل مقام لرم، د هنر په هر ډګر کې سخت زيار باسم او د ځان لپاره مې يوځاى جوړ کړيدى. زه له خپلو علاقمندانو او دوستانو څخه هيله کوم چې په نورو نومونو دې ما نه يادوي، بلکې د افغانستان د آرين خان په نوم او حيثيت دې ما وپېژني».

د څارونکو له نظره، د آرين فلمونه او ډرامې، ډېر کله درې څرګند پيغامونه له ځان سره لري: د افغاني لباسونو عام کول، د زور او جبر له لارې د نجونو د واده کولو د منفي کلتور مخنيوى او له خپل هيواد سره د هيواد والو شعوري ترون. بنايي د همدې احساس له وجې يې د افغان کريکټ ټيم لپاره (دې ګريټ افغان) په نوم يوه ځانګړې سندره ترتيب او خپره کړه چې ډېره وستايل شوه. د ليلى مجنون په نوم يو فلم کې يې مرکزي رول ولوبلو، ولې د آدم خان درخانۍ هنري هڅه يې ډېره بريالۍ وه کومه چې د تياتر په ډګر کې د ډېرو پروډوسرانو د پام وړ وګرځيدله. آرين خان وايي: «اوسمهال، زما يو له ډېرو ارزښتمنو لاسته راوړنو څخه په دولسو دقيقو کې د افغانستان د وروستني شل کلن بهير يو ويډيوي تاريخي لنډيز دى. ما وربانديې ډېره خواري کړې او هيله مند يم چې ځوان کول به ورڅخه ډېر څه زده کړي وي».

داسې ښکاري چې د آرين خان په هنري فعاليتونو کې له وطن، سولې، امن، ملي سرود او ملي بيرغ سره لېونۍ مينه دومره زياته ده چې حد نه لري. نوموړى چې نن سبا د امريکا د ويرجنيا په ايالت کې اوسيږي؛ په يوې مهمې هنري پروژې باندې کار کوي او په راتلونکي کې به يې ليدونکو ته وړاندې کړي. د آرين غټه آرزو دا ده چې د خپل هيواد (افغانستان) د ملي ارزښتونو او وياړونو اړونده شاهکار فلمونه جوړ کړي. په يوټيوب او ډله ايزو رسنيو کې يې سندريز البم زښته زيات ليدونکي او اوريدونکي لري. آرين خان راته وويل: « زما د ټولو سندرو شمير د ۳۵ شاو خوا دى او دا شميره ځکه لوړه نه ده چې زه تل د مِقدار په ځاى، په مِعيار باندې لنګر اچوم».

د بندار په پاى کې، د افغانستان دننه د هنر او هنرمندانو د قدر په اړه مې وپوښته؛ نو له څه درنګ اوچوپتيا وروسته داسې ګويانه شو: « که دې پام وي زموږ خلک هنر خوښوي، خو د هنرمندانو د قدر چل يې نه دى زده. که زه په هند کې پيدا واى، نو الله پوهيږي چې نن به په کوم ځاى او مقام کې ووم؟ په هند کې د پټانانو (پښتنو) راج وګوره چې په باليووډ کې څومره ځليدلي دي؟» بيا يې د جهاني صيب دا شعر راته ولوست:

د دې وطن په نصيب نه دي رسېدلي خلک
چې يې ميندلي دي په کانو يې ويشتلي خلک
د ړندو ښار دى له ډېرې سره خپلوي نه لري
د سترګورو ډلي ډلي دي وتلي خلک
د هر وګړي په څېره کې بلا ګاني وينم
دلته هيندارو ته لا نه دي درېدلي خلک

---

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولاى شي د ملکزي نورې ليکنې او څېړنې د هغه په فيسبوک او يوټيوب چينل کې ولولي او وګوري. ادرس يې دا دى: Wali Malakzay

د ليکوال نورې ليکنې ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ